دانترنيټ دفارسی سرچينوڅخه
ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

# ناټو» NATO «
# او
# دناټو» NATO «  پيژندنه !

يوولسمه برخه

په ناټوکي اختلافونه اوګډوډی !

سربيره پردی چي ناټوپه سنتی ډول سره دامريکا ترلاربنودنی لاندی يوه نظامی  اتحاديه ده، دا اوسمهال دامريکاغوښتنه ددی نظامی سازمان  ديراختيا په هکله دا دی :چي امريکا غواړی  دناټوپه واک سره دروسيی وپولو(سرحداتو) ته ځان ورسوی،مګردامريکا ددغی طرحي او وړانديزسره دناټونظامی اتحاديه پرډلوباندی ويشلی سوی ده ،اودغه اختلافونه لمړی ځل دبخارست په جلسی کي چي په(  ۲۰۰۸ ميلادی کال داپريل د(۲مي څخه تر۴)  ددوهمی ،ترڅلرمه پوری د رومانيي په هيوادکي  جوړسوی وو،په دی غونډه کي امريکا  دروسيی وپولوته  خپل دنظامی شتون اودنږدی کيدوپه هکله دغه غوښتنه يي  وړاندی کړی  اوداروپايي ځانګی دنه منلوپه ځواب سره مخامخ سواوپه بخارست کي دناټوپه سرمشريزه غونډه کي دالمان، فرانسی،اسپانيی،ايټاليا،بيلجيم ، هالنډ اودلوکزامبورک  مشرانو دبوش وړانديز اوغوښتنه يي دګرجستان دغړيتوب په هکله  وناټوته په ډيرکلک اوبنکاره ډول سره مخالفت وکړ اوهغه يي ونه منل اوحتی ددی هيوادونوڅخه يوشمير يي وويل  داهسی  معلوميږی چي دکوزوجلا کيده اورسميت پيژندنه  ديوی  امريکايي  پروژی ترسرليک لاندی دڅارنی و ړ وبلل  سو.دوي په دی باور دی چي ددغه جلاوالی  دپاره په اوکرائين اوګرجستان کي  هغه مظاهری او دخلکوخوزښتونه چي رامنځته سوی وه ددی

جلاوالی دپاره یې لاره پرانستله ،ناټو خپله پریکړه یې داوکرائین اودګرجستان دغړیتوب په هکله دډسامبرترمیاشتی پوره وځنده وله اوشاته یې وغورځوله ،اما دامریکا مشرانو دناټوپرزیاته پراختیا باندی دختیځ په لورتیینګاریې کول . اودغه دوه هیوادونه اوکرائین اوګرجستان چې یووخت دشوروی اتحاد د هیواددخاوری برخی وي اودغه دواړه هیوادونه اوس دروسیی سره ګډی پولی لری اوګاونډي دي .

کاندولیزارایس دامریکا دبهرنی چارو وزیره په (۲۰۰۸) میلادی کال دجولای پر(۱۰) لسمه نیټه باندی دګرجستان نه یې لیدنه اوکتنه وکړه او دناټوونظامی سازمان ته دګرجستان دغړیتوب نه یې ملاتړاویوبل ځل بیا دغه خبره یې څرګنده کړه .او ددی طرحی په وړاندی کولوسره سم په یووخت کې دامریکا نظامیګری ډلی دامریکا دراکیټونوضد سیستم دځای پرځای کولوکاریې په لمړی پړاوکې قرارورکړ چې دغه امر دروسیی پرضدګواښونه زیاتوی اودغه خبرونه په خپل ذات کې دهغوکسانوپرلړلیداوخبروباندی دمنلواودتائید مهر دی چې دغه خبری یې اعلانه ولی اوټینګاریې پری کول ،اودغه مسایل دقفقاز دوروستی جګړی پربنسټ دناټودپراختیا پر طرحی باندی راګرځېدی نوددی کارپوهانوپه باور،امریکایي تئوریسنان وروسته د(۴۰) څلویښتوکالونونه بیا دناټودنظامی تړون روسیی ضدپلانونه یې رامنځته کړی دی اوقرارقرار ددی نظامی تړون شتون یې دروسیی دپلو(سرحداتو)په اوږدوکې دافغانستان څخه بیا ترقفقازه پوری بیولی دی .

دناټوددغه ماموریت په بدلون باند ی دروسیی دفیدراتیف،جمهور رئیس پوتین پری پوهه سو اوددی دلیل پربنسټ باندی دلویدیزوالوسره په خپل ټولوخبراتروکې په سیمه کښې دناټودشتون فلسفه یې دخپدونوسره مخامخ کړ او وی ویل هغه ارګانونه چې په پخواوختونوکې دسوسیالستی انقلابونوپه وړاندی دجګړی دپاره په اروپایي هیوادونوکې جوړ سول اوسمهال کومه موخه بیله دروسیی دواکمنی دراتیټه ولو اومهارولو څخه په افغانستان اوپه قفقاز کې بل مفهوم نه شی درلودلی .

دامریکا ترلاربښودنی لاندی ،په داوروستی دولسیزوکښې دناټونظامی سازمان د(۱۹۹۲څخه بیا تر۱۹۹۹) میلادی کالونوپوری دیوګوسلاویا پرضد جګړه کې خپل دپراختیا دتوضیح کولوپه خاطرددی نظامی سازمان غړی هیوادونه یې دشپاړلسو (۱۶)غړي هیوادونوڅخه وشپږویشت (۲۶) غړي هیوادونوته یې زیاتوالی وموندل اوهمغسی چې کاناډایی جنرال ری هنولت دناټودنظامی کمیټی غړی په خپل رپوټ کې وایی ،ناټود(۳۸) اته دیرشوهیوادونوسره دمرستی قراردادونه لري . ناټوخپل دلاسوهنی حوزه یې داتلانتیک

دکړنلاروا‌ومندرجومواد‌وڅخه ډېره زیاته پراختیا ورکړی ده . مګر امریکائیان دلمړی سره څخه په دغه عقیده باندی وه اوټینګار یې کول اوویلی یې ، نـاټو پـه هغه وخت دیونړیوال ځواک په څیر کولای سی چې خپل رول په ښه توګه ولوبـه وي،چې دپخوانی شوروی دمځکوهغه نوی سیمی چې دپخوانی شوروی دلاسـه وتلی دی ،ترخپل واک اولاس لاس لاندی یې راوړي . ددی دلیل پربنسټ پـه داوروستیوکالنوکي دامریکایي دیپلوماتانودزیار اوهاندلوړګراف چـې وناټوتـه دنوروغړوپـه راجذبولواودناټوسـره دمرستی ترنامـه لانـدی دپخـوانی شـوروی دسوسیالستی هیوادونوپرلورپاملرنه یې پیداکړی ده . په خاص ډول سره تراوسه پوری درنګه انقلابونو رامنځته کیدل څخـه نـوم اخیستلی سو،امریکا زیارویست دنـــــــاټوتربیرغ لانـــــــدی دمنځنـــــــی اسیادهیوادونو،دقفقازدســــــــیمی ،دخزردسینداودتورسینددپراخه زریموکنترول په خپل لاس کې واخلی .
ټولـه هغـه کسان چـې دامریکـا دغـه پراخـه لمسون یې ترخپـل څـارنی لانـدی درلودپـه دی بانـدی هم پوهیدل چـې بلاخره روسیه اودامریکا متحده ایالاتونـه یودبـل پـه وړانـدی پـه یولـوی مخـا مخ کیـدو سـره ډګرتـه راووځـي . دروسـیی اوواشینګټن استراتیژیک مخامخ دریدل دیوبل په وړاندی داروپا اوداسیا سیموته درسـیدودپاره یوثابـت اواړیـن امـر دی ځکـه چـې داوسـتیای پـه کـړکیچ کـې دګرجستان سره ددغه دریدوزیږیدل رامنځته سوی دی .

## دروسیی داردودځواکونوکړنه دګرجستان سره په جګړه کې !

*د روسیی داردوځواکونه دګرجستان سره په جګړه کې دپنځلس (۱۵) فیره SS-21– ایس ایس ۲۱ -یوویشت راکیټونوڅخه یې کار واخیست .*



**SS-21- انځوردویکي پدیاڅخه**

**دروسیی داردوځواکونه په( ۲۰۰۸ )میلادی کال کې داګوست دمیاشتی د(۸می ) اتمی اودیوولسمی (۱۱) نیتی په منځ کې دپنځلس(۱۵) فیره لنډواټن ویشتونکی بالیستیک راکیټونهSS-21 Tochka/Scarab یې دګرجستان دځواکونوپرسنګرونو،مورچلو نواوپرمواضعیوباندی وروغورځول،استعمال کړی اوکار یې ورنه واخیستی دی . اوترداوسه پوری ددی ډول راکیټونودورانی او ویجاړی اودکارونی دګټورتوب په هکله راپوروونه ندی خپاره سوی ،که څه هم ددغه راکیټونوڅخه دچیچین په جګړه کې (۶۰) شپېته**

**فیره دچیچینی چریکانوپرسنګرونواومورچلونوباندی کارول سوی وه.دا ډول راکیټونه دهغوی پرډول اود(مډل)او واټن له کبله توپیرسره لری یعنی د(۷۰) اویا څخه تر(۱۲۰) یوسلوشل کیلومتره پوری ددی ډول راکیټونوواټن دي .**
**دسپینی ماڼی جګپوړی چارواکی وایی کله چې جورج بوش دګرجستان په جګړه کې ددی راکیټونودکارونی څخه خبر سو چې دروسیی داردو ځواکونه دګرجستان داردوپرسنګرونواومورچلـونوباندی ددغه ډول راکیټونو SS-21 او توغو ندیوڅخه کار اخیستی دی سم دلاسه خپله انګیرنه اومخالفت یې ددی موضوع په هکله دکرملین وچارواکوته ور ورسول .**
**رسمی چارواکی وایی په دی جګړه کې دسووڅلرویشت Su-24،سووپنځویشت،** Su-25 **،سوواوه ویشت** Su-27، او ټی یو دوه ویشت ام دری Tu-22M3 بم اچوونکی جګړیزی الوتکی دروسیی دهوایی ځواکونو دمهارت اودلوړوالی درامنځته کیدوسبب سو.
نظامی متخصیصین اوکارپوهان دروسیی دنظامی ځواکونودیرغل په لمړنیوی ساعتونو کښې دګرجستان دهوایی ځواکونو دهوایی کنترول دسیستم دکښته کیفیت ددرلودلو له کبله اودارودوقوماندانی دقوماندی پرتیټ سازماندهی باندی اقرار کوي،مګرپردی سربیره لا تراوسه پوری ندی مشخص وی چې دغه کمزورتیا دګرجستانی ځواکونولخوا ښودل سویدي اویاکه د روسیی دالکترونیک یرغل په سبب رامنځته سوي وو .



**Su-27 سوواوه ویشت۲۷ الوتکی**

اوسمهال دروسیی دهوایی ځواکونوقومندانان منلی دی اودا په ډاګه سره وایی چې دګرجستان په جګړه کې یې دګرجستان داردوپرسنګرونواومورچلونوباندی په دقیقه توګه دهدایت کیدونکواورهبری سوی وسلیوڅخه کار اخیستی دي .
*دروسیی دفیدراتیف دتولومسلحو قواوودستردرستیز معاون اناتولی نوګوفیت سین*



*Anatoly Nogovitsyn*

اعلان وکړ اووی ویل :دروسیی ددفاع وزارت دوسلیو په زریمتون کې داهسی وسلی اومهمات سته دی او اجازه ورکوی چې دجګړه کولوپه وخت کې دجګړی پرځای دبمبونوپه فرشه ولوسره یوازی دګواښګرو ځواکونوحیاتی جوړښتونه خپل موخه وټاکی اوپه دقیقه توګه سره دغه کار موهم ترسره کړل دغه جنرال (دهیڅ ډول وسلیوڅخه نوم وانه خیست) کیدی سی چې دروسیی ځواکونه دلیزری هدایت کوونکی **KAB-500L**بمونوڅخه چې د Su-25،سووپنځه ویشت الوتکوپه وسیله انتقالیږی دګرجستان دځواکونوپرضدیې کاره ولی وي ځکه ددی ډول وسلیو دښودویشتلو غلطی ترلس متره پوری ډېر ندی .

**دناټوپراختیا داوسنیو واقعیتونوخلاف دی**

**دروسیی دفیدراتیف هیوادډبهرنی چارو وزیر"سرګی لاوروف" په (۲۰۰۸) میلاد ی کال کې داپریل پراتمه (۸) نیټه باندی په مسکوکې وخبرلیکوونکو اوژورنالیستانوته یې وویل : دناټودپراختیا کړنلاره دنړی داوسنیوپیښوسره سم نه بولم .**

**" لاوروف"دخبرلیکوونکو اوژورنالیستانودیوی پوښتنی په اړه ،چې دلویدیز سیاست پوهانودویلوپه هکله داوکرائین اوګرجستان دچټک پیوستن او غړیتوب په اړه وناټوته ،دده په هاند اودده لړلیدله مخې دغه مسئله څرنګه ده ؟،ده په دی هکله په ځواب کې وویل : دمعاصری نړی ګواښونه ټولیز دي اویوازی کولای سوچې په ګډه سره ددی ګواښونوپه وړاندی مبارزه وکړو، نه دبلاکونودپراختیا دلاری نه چې دسړې جګړی دوخت څخه راپاته اوساتل**

سوي دي اونه ترخپل واک لاندی دسیموراوستل دبلاکونود اېډه یوپربنسټ باندی .

په همدی شان داپریل دمیاشت په لمړیوکې دناټوسرمشریزه غونډه درومانیی په لازمینه بخارست کې پرانستل سول اودغونډی په اجنداکې دناټوونظامی سازمان ته داوکرائین اودګرجستان غړیتوب ترڅیرنی لاندی ونیول سو مګرددغودوو هیوادونودغړیتوب مسئله داروپایی هیوادونو دمخالفت سره مخامخ سو .

دناټوپه نظامی سازمان کې دهغه دپراختیا په هکله دلړلیدیووالی نه سته دی :

په (۲۰۰۸) میلادی کال کې دمارچ دمیاشتی پر(۲۸) اته ویشتمه نیټه باندی په بروکسیل کې دنووستی دیورپوټ پربنسټ ،دبروکسیل په یو ډیپلوماتیک محفل کې ویلی سوی وه چې دناټویوشمیر هیوادونه لکه : (المان،فرانسه،ایټالیا،پرتګال،هالنډ،بیلجیم اولوکزامبورګ) نه غواړي چې داوکرائین اودګرجستان هیوادونه دی دناټودسازمان غړیتوب ترلاسه کړی دغه هیوادونه په دی هکله یې خپل مخالفت اعلان کړ،او ویلی یې دی موږددی دپاره مخالفت کووچې دروسیی سره زموږ اړیکی دډېر مشکل سره مخامخ نه سی .

داوکرائین اودګرجستان غوښتنه دا وه اودغه هیوادونه ددی هیله مندوه چې دناټوپه سرمشریزه غونډه کې چې په (۲۰۰۸) م کال کې داپریل د(۲څخه بیا تر۴) پوری په بخارست کې پرانستل سوی وو ددی نظامی سازمان غړي دي سي .

همدارنګه ددی مسئلی په هکله د(G8) جی اته دډلی دریځ دامریکا داستراتیژی سره وناټوته داوکرائین اوګرجستان دغړیتوب په هکله هم توپیر لری .

دناټوهغه غړی هیوادونه چې داوکرائین اودګرجستان دغړیتوب دپاره ودی نظامی تړون ته تینګارکوی: دپولنډ،رومانیا،استونیا،لیتوانیا،لتونی ،بلغاریا،اسلواکیا،اسلونی ،چک اودکانادا دهیوادونوڅخه عبارت دي .په همدی ډول سره"یاپ دی هوپ شیفر" دناټوعمومی منشی (رئیس ) اوسمهال ددی مسئلی دوړاند ویلو څخه پټه خوله دی اوچوپتیایې اختیارکړی اوده په

**خپل یوی مصاحبی کې دانګلستان د Financial Times فاینیشیل تایمزورځپاڼې سره څرګنده کړ چې په راتلوونکی ټواله (دناټوغړی هیوادونه ) په ناټوکې به دغه مسئله وڅیړی ./**

(نوربیا،په دوولسمه برخه کې ادامه لري) **اخیځلیک :- دقطر نیوز ،اونووستی څخه**